DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۷۲۶

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ.ل

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

مردم بادغیس از شیوهٔ عملیات تصفیوی به ستوه آمده اند

نیروهای امنیتی در ولایت بادغیس، بعد از تلفات پولیس و افراد ملکی، دست به عملیات تصفیوی علیه طالبان زدند، اما مردم همچو عملیات را موثر نمی دانند.

مل پاسوال سید احمد سامع قوماندان امنیهٔ بادغیس گفت، در این عملیات که روز گذشته در ولسوالی های مقر و بالامرغاب به راه افتید و تا شب گذشته ادامه یافت، یک طالب مسلح کشته شده و سه تن جراحت برداشتند.

به ادعای وی، در جریان عملیات به پولیس و اردوی ملی که عملیات ص۳

لسم کال - دویمه دوره، ۷۲۶ مه گڼه، پر له پسې ۱۷۹۳ گڼه، د ۱۳۸۸ ل ـ د کب ۱۹ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربیع الاول ۲۳ مه د ۲۰۱۰ د مارچ ۱۰ مه

کرزی به پاکستان می رود

رییس جمهور کرزی رییس جمهور افغانستان قرار است، امروز برای سفری دو روزه به پاکستان برود و احتمالا در جریان این سفر به طور رسمی از اسلام آباد خواهد خواست که ملا عبدالغنی را برای محاکمه در افغانستان به این کشور تحویل دهد.

ملا عبدالغنی که فرد شمارهٔ دو طالبان در افغانستان به شمار می رود، ماه گذشته در کراچی توسط نیروهای امنیتی پاکستان بازداشت شد و دو کشور امریکا و افغانستان خواستار در اختیار گرفتن وی هستند.

منابع دیپلوماتیک اعلام کردند، کرزی در تلاش برای تقویت محبوبیت خود که روز به روز در حال کاهش است قصد دارد، در جریان سفر به پاکستان امکان انتقال عبدالغنی به کشورش را بررسی کند. این منابع افزودند، دولت افغانستان در جریان دیدار اخیر وزرای داخلهٔ افغانستان و پاکستان خواستار محاکمه ملا عبدالغنی در افغانستان شده است و ص۳

امریکایي پوځیان دې پراخو عملیاتو ته تیار شي

په داسې حال کې چې امریکایي ځواکونه په کندهار کې د پراخو عملیاتو لپاره پلانونه جوړوي، د امریکا دفاع وزیر رابرت ګېټس پرون د افغانستان په جنوب کې دېره امریکایي پوځیانو ته وویل چې سختې جګړې ته تیار واوسي.

ګېټس پرون د افغانستان د سفر په دویمه ورځ کندهار ته لاړ، چې په دې ولایت کې له مېشتو امریکایي پوځیانو سره ووینې.

د امریکا دفاع وزیر د کندهار ښار د شمال په ۴۸ کیلومتری کې د هغه کنډک له سرتېرو او افسرانو سره ولیدل، چې تېرکال له طالبانو سره په جګړو او د ماینونو په چاودنو کې ۳مخ

د شینوارو د دوو قومونو ترمنځ جګړه شوې ده

د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې د یوې لویې دښتې د ملکیت پر سر د شینوارو د دوو قومونو ترمنځ، پرون له غرمې مخکې سخته جګړه پیل شوې او دواړو لوریو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د یادې شوې دښتې پر سر د شینوارو د علي شېرخېلو او سه پای قومونو ترمنځ له ډېرې مودې راهیسې شخړه روانه وه، چې د کب پر ۱۳مه، سلاکار وزیر وحیدالله سباون د دې شخړې د حل کولو په موخه جلال اباد ۳مخ



د کارموندنې اعلان

DW

د آلمان ږغ راډیو لیکوالو ته اړتیا لري

د آلمان ږغ راډیو د خپلو راډیویي ډرامو د خپرونې د یوې نوې لړۍ لپاره مجربو او استعداد لرونکو ښځینه او نارینه لیکوالو ته اړتیا لري.

په تولیزه توګه دغه دوه سوه راډیویي ډرامې، چې سل یې په پښتو او سل یې په دري کې په پام کې نیول سوي د «واړه او زده کړه» تر نامه لاندې د پروژې په چوکاټ کې په افغانستان او آلمان کې تولیدیږي.

د ډرامو موضوعګاني باید د افغانستان د وګړو د ژوند بیلابیلې برخې انځور کړي. البته دا موضوعګاني د آلمان ږغ راډیو له خوا ټاکل کیږي. هره ډرامه لس لړۍ لري او باید ۱۵۰۰ کلیمې وي. د راډیویي ډرامو پر جزییاتو باندې او دا چې څه ډول څرنګوالي باید ولري، د آلمان ږغ راډیو په هغو معلوماتي سیمینارونو کې وربانديخبري کیږي، چې د انتخاب سوو لیکوالو لپاره دایریږي. په دغو سیمینارونو کې ګډون حتمي او د دغې پروژې یوه برخه ده.

هره لیکواله او یا هر لیکوال د یوې راډیویي ډرامې لپاره لس لړۍ لیکي. هره اونۍ باید یوه لړۍ په بشپړه توګه ولیکله سي او د E-Mail له لارې اړوند مسوول کتونکي یا مصحح ته واستول سي. کتونکي یا مصحح په هغې کې اړین بدلونونه راوړي اود اړتیا په وخت کې لیکواله او یا لیکوال په خپلې لیکل سوي ډرامې کې ژر تر ژره دغه بدلونونه په پام کې نیسي او په خپل لیکل سوي متن کې بدلون راوړي.

د روان میلادي کال د مې په میاشت کې په کابل کې له څو ورځو ښوونیز سیمینار څخه وروسته لیکوالان د خپل کار د پیل لپاره چمتو کیږي او عملا د ۲۰۱۰ میلادي کال د جولای په لومړۍ نېټه په خپل کار پیل کوي. د هري ډرامې تولي لس لړۍ باید د ۲۰۱۰ کال د اګست د میاشتې تر نیمایي پورې بشپړې او کتونکو ته وړاندې سي. د کار د بشپړولو لپاره ټاکلې موده په هیڅ ډول سره د اوږدیدو نه ده. که چیرې تر ټاکلې مودې کار بشپړ نه سي، د ټرون خلاف عمل ګنل کیږي.

لیکواله او لیکوال باید څه ډول مسلکي پسمنظر ولري:

۱. د راډیویي تمثیلي کیسو په برخه کې ډیره ښه تجربه درلودل یا د دیالوګ په شکل د لنډو هیجاني کیسو په لیکولو کې تجربه.

۲. د دیالوګ په توګه په ولوله خو «طبیعي» توګه د په زړه پورو او علمي مسایلو د لیکولو توانمندي درلودل.

۳. د تمثیلي او بیا په خاصه توګه د لړۍ لرونکو کیسو په لیکلو کې داسې توانمندي او استعداد درلودل، چې تولي لس لړۍ یوه د بلې په تعقیب خپله ولوله او هیجان له لاسه ور نه کړي.

۴. په یوې ټاکل سوي موضوع کې په ځانګړې توګه د ځېرنې لپاره توانمندي درلودل او حقیقي، رښتیني معلومات په ساده او د پوهیدو وړ ژبې سره بیانول.

۵. د داسې لیکلو توانمندي درلودل، چې په ساده، روانه، د پوهیدو وړ او په زړه پورې ژبه وي او د راډیو اوریدونکي په ځانګړې توګه ځوان نسل پرې پوه شي او خوند ترې واخلي.

۶. په خپل ټاکلي وخت کې د لیکل سوي متن د سپارلو لپاره دستپلین درلودل او د دې لپاره چمتوالي ښودل، چې د کتونکي او مصحح له غوښتنې سره سم پرته له ځنډ څخه په لیکل سوي متن کې بدلون راوستل سي.

د آلمان ږغ راډیو څه آسانتیاوي تاسي ته برابروي:

۱. په یوه په زړه پوري او نوښت لرونکې پروژه کې د خپلې پوهې او زده کړې د لا پراختیا په موخه د برخې اخیستو لپاره امکانات برابرول.

۲. په دغه پروژه کې د آلمان ږغ راډیو له غوښتنو سره سم په ټاکلي موده کې د سپارل سوو کارونو د بشپړېدو څخه وروسته د ۲۲۰۰,-- (دوه زره دوه سوه) ایرو حق الزحمې ورکول.

۳. د کتونکو او د پروژې د مسوولینو له خوا د کار له پیل تر پاې پورې ملتیا.

۴. تر یوې ټاکلې اندازې پورې د مخابراتي لګښتونو په غاړه اخیستل. د هغو لګښتونو په غاړه اخیستل، چې د لیکوالانو او د کتونکو او د پروژې د مسوولینو تر منځ د تماسونو په نتیجه کې رامنځ ته کیږي.

۵. تر یوې ټاکلې اندازې د څېړنې د موادو لګښت په غاړه اخیستل. د بیلګې په توګه: لیکواله یا لیکوال مجبوره کیږي، چې په یوه ټاکلې موضوع کې د خپلې څېړنې لپاره یو کتاب راونیسي. د دغه کتاب یا داسې نورو موادو لګښت تر یوې ټاکلې اندازې د آلمان ږغ راډیو یې په غاړه اخلي.

۶. په کابل کې د دغې پروژې لپاره د زده کړو د یو څو ورځنۍ سیمینار دایرول. د سیمینار د هغو برخوالو د خوراک او هوټل د مصارفو په غاړه اخیستل، چې له کابل څخه بهر راځي.

د مهربانۍ له مخه خپل غوښتنلیکونه د لیکنو یوه یا دوې نمونې او مسلکي اسناد د ۲۰۱۰ کال د مارچ د میاشتې تر ۲۵ نېټې پورې په دغو E-Mail یا بربښنالیکونو راولیږئ!

هغه لیکوالي او لیکوالان، چې زموږ له خوا ومنل سي، د مارچ تر پایه پورې به ورته خبر ورکړل سي.

د اړیکې پته:

Ibe-afg@dw-world.de
afghanistan@dw-world.de
www.dw-world.de/pashto
Tel.: ۰۰۴۹ ۲۲۸ ۴۲۹ ۴۸۴۲

ستاسو له لیوالتیا څخه ډیره مننه

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

روانه افغان جګړه بل رنګ اخلي،

د امریکا او ایران د ګټو تقابل!

تمه خو دا وه چې ورمه ورځ د ایران ولسمشر احمدي نژاد افغانستان ته راغلي واي، خو ناڅاپه د امریکا د دفاع وزیر رابرټ ګیټس افغانستان ته راغي. ګیټس ایران ته ګوتخنډنه وکړه چې که د ورانې جګړې په مخ کې خنډ پیدا کړي، کومه چې څه موده وروسته په کندهار ولایت کې پیلیدونکې ده، نو ایران به د امریکا له سخت غبرګون سره مخ شي. تر دې وړاندې خو ځله امریکایي مقاماتو ایران په دې تورن کړې چې له افغان وسله والو مخالفانو سره وسلوالې مرستې کوي، دلیل یې دادي: په هلمند او نورو جنوبي ولایتونو کې ډیر ځله له طالب وسله والو سره ایراني ساخته وسله ختلې ده، په ورته وخت کې، کله کله افغان مقاماتو هم دغه خبره زمزمه کړې چې ایران افغان وسله وال مخالفان ددولت پر ضد هڅوي

دغه شان، ورمه ورځ په افغانستان کې د امریکایي پوځونو عمومي قوماندان جنرال ستینلي مک کریسټل هم له یوه عربي چینل سره په مرکه کې ویلي: ایران له افغان وسله والو مخالفینو سره محدوده مرسته کوي. افغانستان ته د ګیټس له راتګ سره سم، د احمدي نژاد سفر یو څه وځنډید، چې ښایي د روانې اونۍ په کومه ورځ هیواد ته راشي. د افغانستان له ټریبیون څخه خو امریکا خپل راتلونکي دښمن ایران ته ګوتخنډنه وکړه، غبرګون به یې هله په ګوته شي چې احمدي نژاد هم د افغانستان له ټریبیون څخه ددغه څرګندونو پر وړاندې خپل عکس العمل وښیي. او ښایي همداسې وهم شي. له دې سفر سره جوخت، د غربي مقاماتو تورونه هم ورځ تر بلې په ایران زیاتیږي. ځینې شنونکي په دې اند دي، ایران هیڅکله نه غواړي چې د هلمند د کجکي بند ورغول شي او ورانه جګړه تر ډیره د ایران د همدغه ګټو لپاره له امریکا سره په هلمند کې غځ کوي.

همدغه علت کیدای شي چې ګیټس ورته اشاره وکړه چې ایران باید په کندهار کې د جګړې په مخ کې خنډ جوړ نه کړي. شنونکي دا هم وایي چې ایران هیڅکله په جنوب کې د هلمند او سلما او نورو ورته شان بندونو د رغونې پر وړاندې کرار نه کښیني. تر دې وړاندې داسې اوازې وې چې ایران افغان وسله وال په وسله سمبالوي، چې ډیر ځله ورسره ایراني ساخت وسله ترلاسه شوې ده. دغه شان، کلونه وړاندې اوازې شوې (نارسمي) چې ملا اداالله غوښتل ایران ته د مرستو د جلبولو لپاره یو سفر ولري خو ژوند ورسره یاري ونه کړه. دغه شان، د نورو جګپوړو طالبانو په اړه اوازې وې چې ایران ته یې سفرونه کړي وو، لکه ملاعبیدالله او ملااختر محمدعثماني. دغه شان، سږ کال تر کومه چې مالومات شته، په ژمي کې ټول طالب اورپکي او تیټ رتبه قوماندانان د تیر په خلاف، په ځاي ددې چې پاکستان او یا قبایلو ته پناه یوسي، په خلاص مټ ایران ته واوښتل او له دې وروسته به بیرته د جګړې په تکل افغانستان ته راځي، دا په خپله وسله والو طالبانو ته د ایران د شنو څراغونو د لګیدو په مانا دي.

افغان جګړه او روانه لوبه بل ډول رنګ اخلي، او په نړیواله کچه د ایران او امریکا د هستوي ستغو سپورو محصول بللي شو. سږ کال ښایي نارامي نورې هم توندې شي. که امریکا له ایران سره په نړیواله کچه په هستوي معاملو نور هم سره ښکر په ښکر شي، د افغان جګړې لمن به هم ورسره پراخه او هم به یې بادونه پسې توند شي او طالبانو به سیمه کې یو بل د سروزرو حامي پیدا کړي وي چې د امریکا لپاره به لوي سردرد وزیږوي. طالبانو ته د ایران شنه څراغونه په نورو برخو کې هم له ورایه ښکاري او لمر په دوه ګوتو نه پټیږي.

امید دادي چې افغان دولت باید ځان په دې اړه جدي مسوول وبولي او له خپل ځان نه د پخوا په شان د دوه قدرتونو د معاملو ډګر جوړ نه کړي، او وخت له مخکې یې چاره وکړي، کنه د افغان ولس د بدبختۍ نوې څپې په ډیر مرګونې بڼه بیا په راالوتو ښکاري. او هیله ده چې د دغه پروپاګند لپاره د ستیج په شان تر ډوک استفاده ونه کړي، حتي احمدي نژاد او نور یاران یې هم.

بناري نظم د بنار ناظمانو وران کړی دی

عبدالرحمن زلال

د نن ورځې نړۍ په بنارونو آن د لرې پرتو سیمو په بنارګوټو کې لاهم د بنارپانو د راکړې ورکړې؛ تګ راتګ، پېرودنې او پلورنې له کښلې انې ګونې جوړوي او همدا انې ګونې که د یو نظم په وسیله سمبال نه کړای شي، نو څرګنده خبره ده، چې د بنارپانو ورځنۍ ژوند له سختو ستونزو سره لاس په ګریوان کېږي، په ځانګړې توګه بیا په لویو بنارونو کې چې هلته ترافیکي ډول، ډول وسایل تګ او راتګ لري، د یو ډېر کلك بناري نظم ارتیا لیدل کېږي، ځکه نو په بنارونو کې ترافیکي پولیس امنیتي څواکونه او د بنارواليو اړوندان ګومارل کېږي، څو له یوه پلوه په بنار کې د بناري چارو د بڼې سرته رسونې په اړوند بناري نظم جوړ او پلي کړي او له هغه څخه ساتنه او څارنه وکړي. له بل پلوه، بناریان په دې باندې اړ باسي چې د همدې بناري جوړ شوی نظم سره خپل کړه وړه جوړ او پلوي یې وکړي! د پورتنۍ نظم جوړونکو، پلي کوونکو او ساتونکو ته د بناري نظم ناظمان ویل کېږي. همدغه د بناري نظم ناظمان دي، چې په بنارونو کې د بناریانو د ډاډمنې سوکالۍ د برابرولو په تمه بناري نظم جوړ وي، پلي ګوڼ او ساتنه یې کوي، زمور بنار، یانې د کابل بنار هغه بنار دی، چې له خپلې ورتیا څخه یې تقریبا څلور چنده اضافه انسانان، موټران او نور ډول ډول د ورنو او راوړنو الاتو او وسایلو ته په خپله غبرګه کې ځای ورکړی دی. دا بنکاره خبره ده، چې همدې وضعې په بنار کې د خلکو ورځنۍ ژوند ډېر په تنګ کړی دی، خو بیا هم همدغه بناریانو د خپلې ورځنۍ ژوند د چلښت لپاره په بنار کې له حده زیاتو انیو ګنیو سره سره یو نیمګړی نظم جوړ کړی دی، خو له بدمرغه په بنار کې دغه د بناریانو نیمګړی بناري نظم هم د بنار د نظم جوړونکو (ناظمانو) له خوا وران دی.

له دې سره سره چې د کابل بنار له ورتیا څخه تقریبا څلور چنده اضافه موټران په دې بنار کې تګ راتګ او شتون لري. بنکاره خبره چې په دې بنار کې به د ترافیکو ډېره سخته ګڼه ګوڼه جوړوي، خو په تاسف سره باید وه وایو، چې په همدغه ګڼه ګوڼه کې د بنار د هر یوطرفه واټ پر مخالف خط باندې چې کوم موټر په حرکت کې ولیدل شي، نو حتما یې رنګ شین او یا خړ وي، یانې د پولیسو او یا ملي اردو موټر به وي. که د بنار د هر واټ پر کښ لاس باندې کم واسطو په حرکت کې ووینو، نو بیا به یې هم حتما رنګ شین او یا خړ وي. که د بنار په همدغه ګڼه ګوڼه کې کم موټر په ډاروونکي تېزۍ او سرعت سره ولیدل شي، چې د بنار پر واټونو حرکت لري او خلك په ډار ځان ورڅخه ګوښه کوي، نو بیا به هم هغه کور سپېره رنجر موټر وي. بله خوندوره خو یې لادا ده، چې ترافیك به هم کړه کړه ورته ګوري هېڅ به هم نه ورته وایي او که ته ورته ووایي، چې دغو موټرانو خو د بنار نظم ګډوډ کړی دی، بې قانونۍ کوي، ولې برغ نه ورته کوي، په خواب کې ورته وایي «برو برو کاکا او وظیفه داره».

زمور په بنار (د کابل) په بنار کې یوازې د پولیسو او ملي اردو موټران ستونزه نه ده، د سهار او مازدیګر له خوا د حکومتي غټو چارواکو له کور څخه د فتر او له دفتر څخه کور ته د تګ پر وختونو د بنار پر واټونو تګ او راتګ بندېږي، څو چې هغه بناغلي له کوره تر دفتره او له دفتره تر کوره پورې رسېږي، د واټونو پر غاړو په شېبو شېبو موټران بند پاتېږي، په ځانګړې توګه بیا هغه وخت چې د ایساف د ځواکونو او یا هم د ملي اردو سپك او درانه وسایط د بنار پر د ننه واټونو کې تګ راتګ کوي، هر څوك که زور وي که وور، که جور وي که ناجور باید په بېړه ځان ګونه کړي، که نه نو هر څه چې ورپېښه شوه، تاوان یې پر خپله غاړه دی!

په دې بنار کې یوازې پورتنۍ ناخوالې نه دي. د بنار پلې لارې خو څه کوي، زوروا کانو آن د واټونو پر غاړو د «تدابیر امنیتي» په نامه کانګرېټي د بوالونو پورته کړي او واټونه یې دومره سره رانغښتي دي، چې موټران لاهم په واري او نوبت پرې تېرېږي، په داسې حال کې چې پر همدې واټونو باندې باید پلي کسان، موټران، موټر سایکلان، بایسکلان، لاسي کراچي او د څارویو ګاډي تګ او راتګ وکړي. دا واړه که امنیتي او وسلوال او یا هم د ایساف ځواکونه دي، که د ترافیکو پولیس او یا هم زوروا کان او جګپوړي واکداران دي، دا واړه په ډول د ډولونو د بناري نظم په جوړونه کې برخمن او د دې پایتختي بنار د بناري نظم د ناظمانو په تل کې شمېرل کېږي او د خواشینۍ خبره هم همدا ده چې اوس د همدې بنار بنارنظم د همدغه بنار د بناري نظم د ناظمانو په کړو وران دی. بناروالي خو لاله وخته څرګنده کړې ده، چې په بناري چارو کې «بنده بیدخل است» که په دې بنار کې بناري نظم د بناري سرکښانو له خوا وران وای، دا سمه وه چې د بنار د نظم د ناظمانو له خوا به هغه سرکښان لاړې ته لاراوستل شوي وای، خو اوس د دې پایتختي بنار نظم د همدې بنار د بناري نظم د ناظمانو له خوا وران دی د همدې چاره به څه کړو؟ په همدې اړوند د دري ژبې هغه متل چې وایي: «هر چیز که بگندند نمکش می زنند، وای به آن روز که بگندد نمك» ډېر ښکلی انځور وړاندې کوي!

جنګ باکي....؟

خالد وفایی



افغانستان کشوری است که همواره در معرض مداخلات و تهاجمات گستردهٔ قدرت های متخاصم نظامی و فرهنگی دنیا و منطقه قرارداشته که از رهگذر آن، نابسامانی های فراوانی را تجربه و از تأثیرات زیانبار ناشی از سیاست های تفرقه برانداز عوامل بیرونی و بیگانه رنج برده است؛ میزان این مداخلات از دیری بدینسو و لااقل در طی سه دههٔ اخیر افزایش فزاینده داشته و قدرت های خارجی، گاهی با همد ستی عمال داخلی و گاهی غیر از آن با هر انگیزه یی پیوسته به این کشور تاخته و غرض نفوذ و استحکام پایه های قدرت شان، به هر شیوه و وسیلهٔ ممکن، متوسل شده اند.

لهذا پیگیری پیوستهٔ استراتیژی مداخله گرایی به ویژه از جانب کشورهای همسایه به منظور دستیابی به اولویت های موردنظر شان از یک طرف و منازعهٔ تقسیم قدرت فی مابین گروه های قدرت طلب داخلی از جانب دیگر، موجب گسترش دامنهٔ جنگ در نقاط مختلف کشور، نا بودشدن تمامی زیربناها و ساختارهای اقتصادی و بروز بحران قومی گردیده، فرایند ناخواستهٔ این تنش ها علی رغم آنکه کلیهٔ ارزش ها و داشته های فرهنگی، اقتصادی و... را نابود و امنیت و آرامش جامعه را به بادفنا داده، همچنان بحران آفرید و فجایع انسانی را ببار آورد.

هگذا تداوم جنگ های داخلی بر اساس تفکر برتری جویی قومی، لسانی و مذهبی برآیند بارز سیاست های مداخله گرایانه و مغرضانهٔ دشمنان این وطن بوده و تبعات ناشی از این نوع رفتارهای سیاسی ضمن آنکه به تشدید خصومت ها و تفرقه های شدید مذهبی، زبانی و نژادی منجر گردیده، همچنان روند این رویارویی ها، زمینهٔ استفادهٔ سیاست های استعمار اجانب را فراهم ساخت. بنابرین، اینکه قدرت های بیگانه در بسط و گسترش تعلقات قومی، گرا یش های تند مذهبی نقش بسزایی داشته اند. زیرا تلاش آنان همواره بر این بوده، تا با استفاده از اختلافات بین اقوام و مذاهب، تضادها و تعارضات را هر چه بیشتر تقویت نموده و از این طریق، به اهداف و خواسته های مورد علاقهٔ شان نایل آیند؛ چنانکه حاکمیت چند سالهٔ نظام های افراطی که معلول تلاش های شوم جنگسازان و استراتیژیستان نظامی کشور پاکستان بود و مسوولیت پیگیری منافع آنان را به عهده داشتند، دلیل بر این گفته می باشد. آنان به منظور دستیابی به اهداف و خواسته های باداران شان وحشت آفریدند و به جنایات و تعدی های ظالمانه متوسل شدند؛ ضمناً تحمیل انواع ص۳

امریکایي پوځیان دې...

سختې مرګ ژوبلې وروا وښتې.
ده پوځیانو ته وویل: « دا کندهار دی.تاسو په داسې ځای کې یاست چې یو وار بیا اهمیت مومي.یو ځل بیا به دلته ټوپک په لاس کې اخلئ.»
د ګټټس ځرګندونو هغه راپورونه تاییدول، چې پراساس یې ویل شوي وو، امریکایي ځواکونه غواړي چې په کندهار کې هم د مارچې په شان پراخ عملیات پیل کړي.
د تاند د رپوټ له مخې، ورمه ورځ د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان د کندهار د عملیاتو په اړه وویل، دا به د مارچې په شان نه وي، بلکې تدریجي عملیات به وي.
هغه په خپل دفتر کې خبریالانو ته وویل، ناټو به په کندهار ولایت کې په تدریجي ډول د ځواکونو شمېر زیات کړي، خو د ځنګلوري ولایت هلمند په څېر به په دې ولایت کې پراخ پوځي عملیات ترسره نه کړي.
مک کرسټل وویل، ناټو هیله لري چې په روان کال کې د دې ولایت ټولې هغه سیمې چې اوس د دولت ترکنټرول لاندې نه دي، په خپل کنټرول کې راولي.
ګټټس ورمه ورځ له ولسمشر کرزي سره ولیدل او وروسته یې په یوه ګډه خبري غونډه کې خبریالانو ته وویل، په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د عمومي قوماندان مک کرېسټال له خوا چې د ملکي وګړو د ژغورنې کوم سیاست غوره شوی، تر ډېره بریالی او د ده په وینا په ډرامتیکه توګه د ملکي تلفاتو د کمیدو سبب شوی. د امریکا دفاع وزیر د افغانستان او پاکستان لپاره د متحدوایالاتو د ځانګړي استازي ریچارډ هولبروک له هاغې خبرې سره مخالفت څرګند کړ، چې ویلي یې وو، د هرې پښتنې کورنۍ لږ تر لږه یو غړی له طالبانو سره اړیکي لري. ریچارډ هولبروک دغه خبره د هاوارډ پوهنتون په کنفرانس کې د خپلې وینا پرمهال کړې وه، خو کله چې له رابرت ګټټس څخه ورمه ورځ په خبري غونډه پوښتنه وشوه، هغه وویل:« سره له دې چې د افغانستان او پاکستان لپاره د متحدوایالاتو ځانګړي استازي ریچارډ هولبروک ته بشپړ درناوی لرم، خو دا په دې مانا نه ده، چې له ټولو هغو څیزونو سره چې هغه یې وایي موافق و اوسم او د دغې خبرې په اړه هم ورسره موافق نه یم.»

مردم بادغیس از شیوهٔ ...

را به پیش می بردند، آسیبی نرسیده و طالبان فرار کرده اند. اما شماری از مردم، این گونه عملیات تصفیوی را برای تأمین امنیت موثر نمی دانند.
ارباب عبدالغنی یکتن از متنفذان ولسوالی بالامرغاب می گوید، زمانی که نیروهای دولتی مناطق را از وجود طالبان مسلح تصفیه می کنند، آنجا را ترک می کنند و این کار باعث می شود که طالبان دوباره آمده و دست به ماین گذاری و حملات بر نیروهای دولتی بزنند.
وی گفت: "عملیات تصفیوی وقتی موثر بوده می تواند که دولت پوسته های امنیتی را در ساحات تصفیه شده افراز کند و زمینهٔ برگشت دوبارهٔ طالبان را منتفی سازد."
نامبرده علاوه می کند که ترک مناطق بعد از عملیات تصفیوی، بیشتر مردم را متضرر می سازد.
این عملیات بعد از آن به راه افتید که انفجار دو ماین کنار سرک در ولسوالی های مقر و بالامرغاب، ۱۰ تن از افراد ملکی و ۲ پولیس به شمول سمونیار رحمت الله قوماندان پولیس واکنش سریع ولسوالی مقر را کشت.

په مزار کې د بنځو لپاره یو باغ پرانیستل شو



د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې په لومړي ځل د بنځو ځانګړی تفریحي باغ د کب پر ۱۸ مه، پرانیستل شو.
د دې باغ د پرانیستلو په مراسمو کې د بلخ والي عطا محمد نور، د بنځو چارو رییسې فریبا مجید او نورو چارواکیو برخه اخیستې وه.
د بنځو چارو رییسې د پارک د پرانیستې په اړه جوړه شوې غونډه کې وویل، چې په بلخ کې په لومړي ځل د بنځو لپاره باغ پرانېستل شو.
نومورې وویل چې دغه باغ د بنځو چارو وزارت له خوا د ۱۰میلیونه او ۳۳۶زره افغانیو په لګښت بشپړ او پرون ګټې اخیستنې ته چمتو شو.
د هغې په وینا، دغه باغ په ۱۰جریبه ځمکه کې جوړ شوی، چې د شنو چمنونو او پراخ میدان ترڅنګ په کې د المان د تخنیکي مرستو د موسسې GTZ له خوا ۷خونې او یو هوټل هم جوړ شوی دی.
فریبا وویل چې په باغ کې د بنځو د تفریح لپاره د سویډن هېواد په مرسته د ګلف لوبې میدان هم جوړ کړای شوی دی.

د شینوارو د دوو قومونو...

ته تللی و.
د ننګرهار د امنیه قوماندانۍ ویاند سمونوال عبدالغفور د کب پر ۱۸مه وویل، چې دوی هم په سیمه کې د دواړو قومونو ترمنځ له جګړې خبر شوي دي.
هغه زیاته کړه، چې په سیمه کې مېشتو حکومتي ځواکونو د نښتې د درولو هڅې پیل کړې دي او تراوسه د مرګ ژوبلې په اړه راپور نه لري.
د سمونوال غفور په وینا، یوه ډله پر بله غالب شوې او اوس جګړه پای ته رسېدلې ده.
نومورې وویل چې د ملي اردو له خوا د راکټ د سهوا فیر له امله د ۰۳ قطعي یو سرتېرې وژل شوی او دوه نور ټپیان دي.
هغه د ملکي زیانونو په اړه ناخبري وښوده.
خو په سیمه کې یوه قومي مشر چې د نوم له ځرګندولو یې ډډه کوله، وویل چې په دې جګړه کې تر اوسه ۲۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.
د سه پای د قوم یوه غړي نجیب الله عمر شینواري وویل، چې د علي شېر خپلو ډلې له خوا پرون له غرمې مخکې پر یوولسو بجو پر دوی برید وشو.
د شینوارو د غنۍ خپلو یوه قومي مشر ډګروال منډوزي وویل، چې په دې جګړه کې له دواړو لوریو څخه ګڼ شمېر موټرونه هم سوځول شوي دي.
د پڑواک د رپوټ له مخې، د اچین ولسوالۍ د شینوارو دوه قومونه، علي شېرخېل او سه پای د هغې ۳۵۰۰ جریبه دښتې د ملکیت پرسر یو بل نه منې، چې اوسمهال په کې د دواړو قومونو نهه سوو کورنیو خېمې درولې دي.

د پښتنو په اړه د هالبروک...

احترام په فضاکې دوستي او ستراتیژیکه ملګرتیا وکړي. د هېواد په بیارغونه او د نړیوال امنیت په تینګښت کې د دوی همکاري جلب کړي.
چې دا کار هم د امریکا او هم د افغان ولس په ګټه دی. نه دا چې په هر ناسم راپور د دوی زړونه خپه او احساسات یې راوپاروي.

کرزی به پاکستان...

رحمان مالک وزیر داخلهٔ پاکستان به محمد حنیف اتمر همتای افغانی خود اطمینان داده است که درخواست رسمی افغانستان در این باره را بررسی خواهد کرد.
پس از آنکه محکمه یی در پاکستان، انتقال ملا عبدالغنی برادر را به کشور های خارجی ممنوع کرد، اوضاع تغییر کرده است، با این حال، این احتمال وجود دارد که پاکستان در بدل موافقت با انتقال عبدالغنی به افغانستان از این کشور خواهد خواست، به بازگرداندن داکتر عافیه که افغانستان به امریکا تحویل داده است، کمک کند.
روزنامهٔ دیلی تایمز گزارش داد، کرزی همچنین در جریان سفر خود به پاکستان، خواستار کمک این کشور در جریان پیوند دوبارهٔ اعضای طالبان به جامعهٔ این کشور و نیز، صلح با طالبان خواهد شد. این درخواست از پاکستان پس از آن صورت می گیرد که عربستان سعودی ایفای نقش در میانجیگری صلح با طالبان را رد کرده است.

طالبان مسلح درگیری با حزب اسلامی را رد نمود

والی بغلان از ختم درگیری میان افراد طالبان و حزب اسلامی در دو ولسوالی آن ولایت روز قبل درحالی خبرداد که سخنگوی طالبان دیروز اعاد کرد که طرف درگیر با آنان، افراد حزب اسلامی نه، بلکه نیروهای دولتی بودند.
محمد اکبر بارکزی والی ولایت بغلان پریروز در کنفرانس خبری گفت که در این درگیری که میان افراد طالبان و حزب اسلامی صورت گرفته بود، نیروهای دولتی حالت دفاعی را داشته است.
وی از تسلیمی ۱۲۰ تن افراد وابسته به حزب اسلامی با سلاح های دست داشتهٔ شان به دولت نیز خبرداد.
اما ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان ضمن اینکه از ختم درگیری میان افراد آنان و نیروهای دولتی در ولایت بغلان خبرداد گفت که تمامی مناطق در کنترول نیروهای آنان درآمده است.
به گفتهٔ مجاهد، افرادی که با آنان درگیر بودند، نیروهای دولتی اند.
طبق اظهارات وی، در این درگیری ها، پنج طالب کشته و ۳۰ تن دیگر زخمی شده و هفت تن از نیروهای دولتی نیز کشته شده اند .

د افغانستان په خټیځ کې یو بهرنی سرتېری وژل شوی

د ایساف ځواکونو مطبوعاتي چارواکو د افغانستان په خټیځ کې د یوه بهرني سرتېري د وژل کېدو خبر ورکړی دی. خبر زیاتوي، چې دغه سرتېری په ډزو سره ویشتل شوی او وژل شوی. د ایساف نوي ویاند کاناډایي پوځي ایریک جي ترمبلي ویلي، چې د دغه سرتېري هویت به د هغه هېواد له خوا په ډاګه شي.
د یادونې ده، چې پخوا به هم د دا ډول پېښو توضیحات پټ ساتل کېدل، خو په دې وروستیو کې دا بندیزونه نوره هم زیات شوي دي.

استفاده از موترهای شیشه سیاه ممنوع شد

وزارت داخلهٔ اعلام کرده است که به دستور رییس جمهور پس از این، از تردد وسایل نقلیه شیشهٔ سیاه "بدون استثنا" جلوگیری خواهد کرد.
زمری بشری، سخنگوی این وزارت در یک نشست خبری گفت: "دلیل این امر بدون شک تامین امنیت، ثبات و مصونیت هموطنان است".
بشری گفت، امکان آن وجود دارد که از موتر شیشه سیاه "سوء استفاده" شود و برای ماموران پولیس دشوار است که تشخیص دهند که در میان این گونه موترها چه کسانی نشسته اند.
او افزود: "به ویژه زمانی که دو سه موتر بسیار لوکس از محلی عبور کند، برای دو سه مامور پولیس بسیار دشوار است که آنها را توقف دهند و بازرسی کنند."
در حال حاضر، بیشتر مقام های ارشد افغان و خارجی، نیروهای امنیتی داخلی و خارجی، رهبران گروه های سیاسی و قومی و شماری از تجار موتر های شیشه سیاه دارند.
بشری به بی‌بی‌سی گفت که هر چند هنوز مورد ویژه یی گزارش نشده که مهاجمان در حملات از این گونه موترها کار گرفته باشند، اما افزود که ممکن است، در "آدم ربایی‌ها و جرایم سازمان یافته" از موترهای شیشه سیاه استفاده شده باشد.
سخنگوی وزارت داخله همچنین گفت که ممکن است، "تروریست‌ها در انتقال افراد خود و همچنین مواد منفجره از محلی به محلی دیگر" از چنین موترهایی استفاده کنند.
سخنگوی وزارت داخله همچنین در این نشست گفت که این دستور بر اساس تصمیم شورای امنیت ملی که به تایید حامد کرزی، رییس جمهور هم رسیده، صادر شده است.
بشری گفت، در این دستور هیچ استثنایی وجود ندارد و دیروز با پاک کردن رنگ از شیشه موترهای متعلق به حنیف اتمر، وزیر داخله به اجرا گذاشته شد.
او افزود که موترهای همه مقام های کشور و حتا مقام های خارجی و نیروهای مسلح داخلی و خارجی مستقر در افغانستان شامل این برنامه خواهند شد.
سخنگوی وزارت داخله گفت، به همه افرادی که موترهای آنان شیشهٔ فیلم‌دار دارند، تا ۲۰ حوت فرصت داده شده که رنگ شیشهٔ موترهای خود را پاک کنند. به گفتهٔ او، پس از این تاریخ، نیروهای امنیتی در جاده‌ها موترهایی را که شیشه‌های سیاه دارند، متوقف و رنگ شیشه های آنها را پاک خواهند کرد.
بشری همچنین گفت که دستور تازه شامل موترهای بدون شمارهٔ ترافیکی (نمبر پلیت) هم می شود و افزود که پس از این، به چنین موترها اجازهٔ رفت و آمد، داده نخواهد شد.
سخنگوی وزارت داخله گفت که برای گشت و گذار وسایط زرهی هم شرایط تازه‌یی وضع خواهد شد. به گفتهٔ او، گرفتن مجوز یکی از این شرایط است.
بشری افزود که طرزالعمل گذشته در این مورد بازنگری و به اجرا گذاشته خواهد شد.
بشری همچنین گفت که شورای امنیت ملی در دستور خود از مردم هم خواسته است که برای اجرای این دستور همکاری کنند.
سخنگوی وزارت داخله افزود که این دستور ابتدا در شهر کابل و پس از آن در سراسر کشور به اجرا گذاشته خواهد شد.
چنین دستوری پیش از این هم در مواردی صادر شده بود، اما به طور کامل به اجرا گذاشته نشده بود.
هرچند در دستور تازهٔ شورای امنیت ملی از لحن جدی تری کار گرفته شده، اما به نظر می رسد که اجرای این دستور با مشکلاتی همراه باشد.

د پښتنو په اړه د هالبروک ګډې وډې

رشاد احمدزی

ګلوبل پوست ورځپاڼې خبر ورکړؤ چې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د متحدو ایالتو ځانګړي استازي ریچارډ هالبروک د روان کال د مارچ پر پنځمه په امریکا کې په هارورډ فورم(سختواواحساساتي الفاظو)کې یوه کنفرانس ته ویلي و، چې د ډیورنډ دکرښې په دواړو غاړو کې د مېشتو پښتنو په هره کورنۍ کې یو تن خامخا طالب دی.

ده همدا راز ویلیؤ چې طالبان د پښتني ټولنې نه بهلېدونکې برخه ده.

هغه ویلي چې امریکا له طالبانو سره د افغان دولت د جوړجاړي او سولې په پروسه کې شامله نه ده او دا د کرزي خپله طرحه ده، چې په وینا یې پخپله هم پښتون دی او د قومي تړاو له مخې له طالبانو سره سوله کوي.

هالبروک د متحدو ایالتو لوړپوړی دیپلومات او د امریکا په سیاست کې مطرح شخص دی، هغه تر افغانستان وړاندې په یوګوسلاویا کې هم د متحدو ایالتو استازی و او اوس په افغانستان کې هم د دې هېواد له خوا، چې په افغانستان کې له طالبانو او نورو مخالفینو سره د جګړو لپاره یې دلته شاوخوا سل زره وسلوال پوځیان رالېږلي او له القاعده او طالبانو سره د دوی او د نورو ګډوډوالو د جګړې اشراف هم کوي. درونډ مسوولیت ورسپارل شوی دی.

دا چې د متحدو ایالاتو دومره لوړپوړی دیپلومات ټول پښتانه طالبان بولي او بیا له طالبانو سره خبرې هم ردوي او له هغوی سره پر جګړو ټینګار کوي، دا واقعاً د ټولو افغانانو او په ځانګړې توګه د پښتنو لپاره دردوونکی، خواشینوونکی او سپکوونکی خبر دی.

که څه هم ځینې کړی، او امریکا پلوه کتونکي وایي، چې متحد ایالات او د هغوی استازی هالبروک له پښتنو سره هېڅ کومه دښمني او بدبیني نه لري او دا چې څه وایي دا د دوی د ناسمو معلوماتو زېږنده ده، داد معلوماتي مراجعو د پر ضعف دی او یا داسې اشخاص اوچینلونه دي چې هغوی قصداً غواړي متحد ایالات او پښتانه یو له بله سره وجنګوي.

که څه هم، داهم یو دلیل کېدلای شي، چې هالبروک دې داسې نامسوولانه څرګندونې وکړي. خو که څوک د امریکا فرعوني غرور، موجوده تېکنالوژي او پراخه مادي امکانات په پام کې ولري، نو دا اټکل ورته د پر کمزورې بنکاري، چې د هالبروک دا څرګندونې دې له یوې مخې د ناسمو او نادقیقو معلوماتو پایله وي.

ښایي له امریکایانو سره د دې خصمانه ذهنیت په تخلیق کې ناسم او نادقیق راپورونه هم رول ولوبوي، خو له یوې مخې یې د ناخبرۍ پایله بلل هم په ګوته ټمر پټول دي.

حقیقت دادی چې امریکایان په افغانستان کې پر هرڅه نه خبر دي، خپل دوست او دښمن نه پېژني استخبارات یې هرڅه نه څېړي، په ځانګړې توګه کله چې په افغانستان کې د دوی له خوا په بین المللي غوبل کې د نړۍ ستر چلباز انګلیس هم ورسره ملګری دی، دوی پوهېږي چې ټول پښتانه طالبان نه دي او طالبان کومه سیمه ییزه، قومي او سکتارستي ډله نه، بلکې کاملاً مذهبي ډله ده او اجنداوې او موخې یې هم اسلامي او د ټول افغانستان په کچه دي.

نه ټول پښتون ملت ځان طالب او نه خو هم طالبان ځانونه پښتنو ته منسوب بولي، بلکې که څوک د طالبانو پخواني او اوسني تشکیلات ووینې، نوپوهېږي چې آن د وزیرانو په کچه په کې هرقوم ته منسوب اشخاص وو او اوس هم شته دي.

آن د عربانو، چیچنیایانو، برېتانویانو، امریکایانو او.... په شمول تقریباً د ټولې نړۍ اتباع ورسره وو او اوس هم ورسره شته دي، چې نېه ببلګه یې د متحدو ایالاتو د کلیفورنیا دایالت اوسېدونکی آدم یحیی غدن دی، چې په دې وروستیو کې امریکایي او پاکستانیو څارګرو ادارو د کراچۍ په نوري اباد سیمه کې ونیوه.

دا چې امریکایان دا ډول څرګندونې کوي، د اسلام او لرو برپښتون قام ته دسیسه ده. دوی پوهېږي چې پښتون ،مسلمان، ایماندار، زړور، سرښند او اتل قام دی او په هېڅ ډول نه چاته اېلېږي او نه بنکېلاک او زېښناک منې، د پښتنو په اړه د دوی دکتورین داسې دی، چې افغانستان د امپراتوریو هدیره ده او که د دې قوم بېخ او بنسټ ونه ایستل شي، نو هغه ورځ لرې نه ده، چې د دوی جنګي ماشین به هم د انګرېز، چنګېز، روس او نورو په څېر د امپراتوریو د ذوب په دې بټۍ کې ویلې شي.

امریکایان د پښتنو له دیني او ملي جذبې وېرېږي، غواړي چې په هره برخه کې یې وځپي، داسې یې وټکوي، چې نور د سر راپورته کولو هم نه وي.

داسې هم ویل کېږي، چې هالبروک یهودي دی او دا چې نوموړی له ټولو تش لاسو پښتنوسره جګړه او دوی وژل اړین بولي، داسې بنکاري چې په المان کې د نازي هټلر په لاس د یهودیانو د ټولوژنې (هلوکاسټ) غچ له دوی اخلي او دلته یو بل هلوکاسټ غواړي. متل چې(زور پر تانه رسېږي مړ به دې ابا کړمه.)

خو برعکس ټوله نړۍ شاهده ده چې پښتانه یو سوله خوښوونکی، ارام او له شر او فساد سره وران قوم دی. دې قوم پر چا یرغل نه دی کړی، د چا پرمادي او معنوي ارزښتونو او سیاسي او فکري جغرافیې یې تېری نه دی کړی، د لوېې حوصلې اوپراخ فکر خاوندان دي، خو که کله د نورو له تېري سره مخ شوی او د عکس العمل ښودلو ته اړ ایستل شوی دی، نو بیا ورته خپل سر د تېرې په اندازه هم ارزښت نه لري.

د ختیځ نابغه علامه اقبال خو دا قوم کتلی او تللی وو، چې ویلي یې دي:

اسیا یک پیکر اب وگل است
ملت افغان در ان پیکر دل است
از کشاد او کشاد اسیا
ازفساد او فساد اسیا

که امریکایانو ته د افغانانو د تورې شرنګ معلوم نه و، نو انګرېز ته خو معلوم و، ولې یې له برایدن او مکناټن نه د افغانانو شهامت او غیرت نه پوښت.

په هرحال اوس هم لاوبه له ورخه ډېر تېرې نه دي، امریکایان باید د افغانانو او په ځانګړې توګه د پښتون قام په اړه خپلې شومې موخې او ارادې بدلې کړي، د پښتنو شمېر اوس ۵۰ میلیونوته ته رسېږي او تخم یې په ټوله نړۍ کې خپور دی. په لره اوبره پښتونخوا کې پروت پښتون اوس د سیاسي شعور خاوند دی او د هالبروک او ګالبریت لښتې دا اوبه ببلولای نشي. امریکایان او ملاتړي یې پښتانه ختمولای او اېلولای نه شي او نه به افغانان چاته دا اجازه ورکړي، چې واحد افغان ملت پرملیتونو او د دوی کور(افغانستان) پر ټوټواو کورګیو ووېشي.

امریکایان باید پوه شي چې دلته یې د یوګوسلاویا په څېر د تجزیې پلانونه نه شي بریالي کېدلای او لکه څنګه چې دیوګوسلاویا د وېش د مخمس دوه بتان (پېډي اشډاون او ګالبرېټ) پخوا په افغانستان کې نړېدلي ښایي دا بله ستنه (هالبروک) یې هم ونړېږي.

د امریکا متحد ایالات باید له پښتنوسره د دښمنۍ پرځای د سیمې او افغانستان د امنیت اوسولې په تامین کې له دوی مرسته وغواړي. له هغوی سره د متقابل **۳مخ**

قابل توجه علاقمندان روزنامهٔ اراده

روزنامهٔ اراده به اطلاع تمام اداره های دولتی و غیردولتی می رساند که توزیع روزنامهٔ اراده بعد از تاریخ اول حمل سال ۱۳۸۹ به طور رایگان صورت نخواهد گرفت؛ اداره ها و مراجعی که علاقمند دریافت روزنامهٔ اراده هستند، به دفتر روزنامه مراجعه نموده و وجه اشتراک پولی شان را بپردازند و با اشتراک شان در این روزنامه، در رشد، تقویهٔ و گسترش هر چه بیشتر رسانه های آزاد کشور، سهم خویش را اداء نمایند.
وجه اشتراک روزنامه قرار آتی است:

وجه اشتراک	در داخل کشور	برای موسسات،سفارتخانه هاودفترهای خارجی	برای محصلان و متعلمان
سالانه	۲۰۰۰ افغانی	۳۰۰ دالر امریکایی	۱۰۰۰ افغانی
شش ماهه	۱۰۰۰ افغانی	۱۵۰ دالر امریکایی	۵۰۰ افغانی
سه ماهه	۵۰۰ افغانی	۷۰ دالر امریکایی	۲۵۰ افغانی

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي. نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پښتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : نبي "پاوری"
مسوول توزیع و بازارنابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۲۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com